{«DateLetterGenerated»}

گرانه اوسیدونکیه،

هغه ځای چې تاسو پکې په {«Street, City, State Zip»} کې وسیږئ، وموندل شو چې د سرب غیر خوندي کچه لري چې د یو ماشوم د سرب څخه مسموم کېدلو لامل شوی. له سرب سره مخ کېدل ممکن دماغ او عصبي سیستم ته زیان رسوي، وده او پرمختګ ورو کړي، او د زده کړې او چلند ستونزې او همدارنګه د اورېدلو او خبرې کولو ستونزې رامنځته کړي.

تر ټولو عام لامل چې ماشومان یې له امله د سرب څخه مسموم کیږي، له 1978 دمخه جوړ شویو زړو کورونو کې خراب شوی سرب لرونکی رنګ (یعني دوړه یې) دی. نور احتمالي د سرب سره مخ کېدلو سرچینو/لاملونو کې خاوره، اوبه او د مصرف کوونکي لخوا کاریدونکي محصولات شامل دي.

**که چیرې یو ماشوم چې عمر یې د 6 کلونو څخه کم وي ستاسو په کور کې ژوند کوي یا په اونۍ کې د شپږو ساعتونو څخه زیات هلته پاتې کیږي، نو Ohio Department of Health وړاندیز کوي چې ماشوم د ډاکټر یا بل روغتیا پاملرنې چمتو کوونکي څخه د وینې معاینه وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې هغه له سرب څخه مسموم شوی ندی.**

{«HDname»}ستاسو د کور مالک ته د ملکیت د مالک په توګه امر وکړ چې د سرب ستونزې حل کړي، مګر هغه د دې کولو څخه انکار کوي. **په نتیجه کې، د Ohio قانون وایي هر هغه څوک چې په دې کور کې ژوند کوي باید ترې رخصت شي ځکه چې دلته د خلکو لپاره ژوند کول ناامنه ټاکل شوي. دا په ځانګړې توګه د 6 کالو څخه کم عمر لرونکو ماشومانو او همدارنګه امیندواره میرمنو لپاره ناامنه دی.** د خبرتیا نښه په ملکیت باندې ځړول شوې ده، او د دې لرې کول غیرقانوني دي. ODH دا ډول ملکیتونه څاري ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د خبرتیا نښې لاهم ځړول شوي، او هیڅوک هلته ژوند نه کوي.

تاسو اړتیا لرئ د ژوند کولو لپاره د بل کور په لټه کې شئ (د امکان په صورت کې د 1978 وروسته جوړه شوې ودانۍ، ځکه چې ډېر لږ امکان شتون لري چې دا به هم د سرب ستونزې ولري). د Ohio ډېری ټولنې د ټولنیزو خدماتو سازمانونه یا د ټولنې نورې سرچینې لري چې کولای شي تاسو سره د ژوند کولو لپاره د بل ځای په موندلو کې مرسته وکړي. تاسو کولای شئ په خپله سیمه کې د هغو ملکیتونو لیست وګورئ چې باید ډډه ترې وکړئ ځکه چې دا هم د سرب ستونزې لري (د ODH په ویب پاڼه کې په {http://www.odh.ohio.gov/pbhazproperties}). کې شتون لري.

که تاسو د دې خبرتیا په اړه، یا له سرب څخه مسمومیت لپاره د ماشوم معاینه کولو څرنګوالي په اړه پوښتنې لرئ نو {«HDname»} ته په {«HDPhone»} شمېره زنګ ووهئ.

په درنښت،

{«HDRepresentativeName»}
{«HDRepresentativeTitle»}
{«HDName»}